مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

هاجره حرکت

۲۰۲۱/۱۲/۲۸

# سپیره سیلۍ

څه سپیره سیلۍ لګېږي، سوي زړه له اسوېلیو
د کابل له غېږې درومي، قافلې د ګلغوټیو

ناره د محبت د مور مرۍ کې وچـه شوې
اسمـایي غـر لولپه دی، له تـبجنو ناهیلـیوو

په نرۍ کې هېوادونو پرې کړ خپل وته ایز سم
خپلو لار پرې وتړله، د بې فکرو له خامیوو

له نادود د ټاټوبي، په دې وچ سوي تتر کې
اوریدی شي سوې ساندې، د زلمیو د لونګیو

چنډړ چنډړ ځواني يې پر ملا ماته رژولې
دي سوي ګلبڼونه، اواز ګونګ دی د مرغیو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولــئ